د افغاستان اسلامي جمهوريت
جمهوری اسلامی افغانستان

د ټاکنيزو شکايتونوکميسيون
کميسيون شکايات انتخاباتی

Islamic Republic of Afghanistan

Electoral Complaints Commission

# د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون اعلاميه

کابل ښار: ۱۳۸۹/۵/۱۶

د ټاکنو د قانون د ديارلسمي مادې د پنځمي فقرې د لومړي بند پر بنسټ ، د نوماندی د وړتيا د شرطونو او معيارونو څخه يو يې دادئ چې د ملکي خدماتو مامورين بايد د نوم ليکني نه مخکي له خپلو دندو استعفا کړې وي.

د ټاکنيزو شکايتو کميسيون د ولسي جرګې د وروستي نوملړ تر اعلان وروسته ، د هغو شکايتونو په څيړلو پيل وکړ چې ځيني محترم نوماندان په خپل وخت له خپلو دندو څخه استعفا نه وه کړې ،په پايله کې وموندل شوه چې يو شمير نوماندانو د نوم د ليکلو پرمهال له خپلو دولتي دندو استعفا نه وه کړې . نو پر همدې اساس د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون اته نوماندان په خپل وخت له دولتي دندې د استعفا د نه کولو پر بنسټ د نوماندی وړ نه بولي اود ټاکنو له خپلواک کميسيون نه غواړي چې د دوی نومونه د عامه پوهاوي لپاره اعلان کړي . لرې شوي نوماندان په لاندنيو ټاکنيزو حوزو پورې اړوند دي :

د کابل ولايت له ټاکنيزې حوزې څخه يو تن .

د کاپيسا ولايت له ټاکنيزې حوزې څخه يو تن .

د زابل ولايت له ټاکنيزې حوزې څخه دوه تنه .

د دايکندي ولايت له ټاکنيزې حوزې څخه يو تن .

د لوګر ولايت له ټاکنيزې حوزې څخه يو تن .

د ننګرهار ولايت له ټاکنيزې حوزې څخه دوه تنه .

د يادوني وړ ده چې:

۱- د وروستي نوملړ تر اعلان د مخه هم اوه تنه چې له خپلو دولتي دندو يې په خپل وخت استعفا نه وه کړې ، د ټاکنيزو شکايتو دکميسيون د پريکړې پر بنسټ له وروستي نوملړ څخه لرې شوي وه . د يو شمير نورو نوماندانو دوسيې چې په خپل وخت له خپلو دولتي دندو د استعفا نه ورکولو په تور تورن دي تر څيړنو لاندې دي او په راتلونکو ورځو کې به ددې څيړنو وروستي پايلې خلکو ته اعلان شي .

۲- د ولسي جرګې د نوماندانو د لومړني او وروستي نوملړ د اعلان له پيل راهيسي هغه نوماندان چې د بيلابيلو لاملونو له وجې د نوملړ څخه ايستل شوي دوه پنځوس تنو ته رسيږي

**د ټاکنيزو شکايتو کميسيون**